**د ۱۴۴۵هـ.ق کال د نېکمرغه کوچني اختر مبارکۍ په مناسبت د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې د وينا متن**

(ژباړه)

**السلام عليکم و رحمت الله وبرکاته**

**عزتمنو خويندو او وروڼو! اختر مو مبارک شه!**

موږ د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو له برخې ځانګړې مبارکي درته وايو!

الله سبحانه و تعالی خو مو روژه، عبادتونه او ټول نېک عملونه قبول کړي او تاسو، ستاسو کورنيو او ملګرو ته يې خير او برکت درکړي.

په دې کې شک نشته چې زموږ د شپې لمونځونه او روژې داسې ځانګړې قدرت لري چې توصيفېدی نه شي!

رمضان داسې مياشت ده چې په هغې کې مو تواضع او د عمل اراده ځانګړی ځواک پيدا کوي. ځکه خو رمضان د مسلمانانو لپاره له فردي اړخه له برياوو ډکه مياشت وي. رمضان په فردي کچه له برياوو ډکه وي، ځکه چې په هغې په فردي کچه پر مکلفيتونو پايبندي او عمل زياتېږي؛ خو کله چې دا چاره برياوو، خوشاليو او سعادت پورې اړوندېږي، امت په ټوله کې ګته ترې اخيستی شي.

هو، د يوه جسم او ځان په توګه؛ خو د تېرو ۱۰۳ کالونو په رمضان مياشتو کې مو دا نه ده ليدلې او سبب يې دا دی چې د خپلو مهمو مکلفيتونو په ترسره کولو کې مو غفلت کړی؛ هغه مکلفيت چې خورا اړين دی او ډېر وخت نيسي. يعنې د ځمکې پر سر د الله سبحانه و تعالی د نظام حاکمولو لپاره يو ځای او رسول الله صلی الله عليه وسلم پر منهج فعاليت کول؛ دا فردي نه، بلکې جمعي مکلفيت دی!

د دغه مهم مکلفيت په ترسره کولو کې غفلت د بې شمېره رنځونو او دردونو سبب شوی، دومره چې له حده وتلي او د امت تر نسل‌وژنې رسېدلي! موږ دا درد او رنځ په ختيځ ترکستان، کشمير، هند او د نړۍ هر کونج کې وينو؛ خو په غزه کې نسل‌وژنه په پوره جسارت روانه ده. ليبرال غربي نظامونه، يعنې د اسلام دښمنان د دغې نسل‌وژنې پوره ملاتړ کوي!

**ګرانو مسلمانانو!** په ځانګړي ډول تاسو چې د مسلمانانو په پوځونو کې يئ او شپې مو په قيام تېرې کړې! د دې لپاره چې ژوند کوو، د تر ټولو غوره امت مقام لرو او د تر ټولو لويو برياوو ترلاسه کولو وړتيا لرو؛ پر موږ لازمه ده چې له فردي مکلفيتونو پښه وړاندې کېږدو.

پر موږ لازمه ده چې د ټولنې، ټول امت او ټول بشريت پر وړاندې خپل مکلفيتونه ادا کړو.

د خپلو ځواکونو، قدرت او وخت په یو موټي کولو د دغه جمعي مکلفیت د ادا کولو لپاره پورته شئ! زموږ په خاورو کې د حاکمو خاینو نظامونو په له منځه وړلو زموږ خاورې، صفونه، اخترونه او خوشالی یو ځای کړئ. یو موټی شئ چې ټول بشریت له هغې نسل‌وژنې سره د یوه دردېدلي او ځورېدلي امت مبارزه ووینې چې د غربي ځواکونو او نظامونو په ملاتړ روانه ده!

نو، ټول بشریت د اسلام د ریښتیني رحمت تر سیوري لاندې وژغورئ او عزتمند یې کړئ! دا کار د نبوت پر منهج ثاني راشده خلافت په تاسیس وکړئ؛ دا د الله سبحانه و تعالی وعده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زېری دی. او هغه ورځ (د نصرت او بري ورځ) مومنان خوشاله کېږي.